روزل شوی نسل
نیکمرغه افغانستان

هفته نامه
معارف
اوونیزه

جمهوری اسلامی افغانستان
د پوهنې وزارت ۱۳۸۱

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۱۴ ماه سرطان سال

# پیام جلالتمآب وزیر معارف کشور به مناسبت فرارسیدن عید سعید فطر

فرارسیدن عید سعید فطر را برای معلمان عالیقدر، شاگردان عزیز، خانواده بزرگ معارف و برای تمام ملت مسلمان افغانستان صمیمانه تهنیت عرض می نمایم.عید سعید فطر یکی از مناسبت های مهم دینی برای مسلمانان جهان است. مسلمانان جهان پس از یک ماه عبادت و سپری نمودن آزمون عبودیت، در پیشگاه آن ذات کبریا، عید سعید فطر را تجلیل می کنند. هرچند عید سعید فطر عید شادی و مسرت است اما با کمال تاسف شماری از هم وطنان ما در جریان ماه مبارک رمضان در حوادث گوناگون سوگوار شدند، لازم میدانم تا برای شهدای این حوادث بهشت برین، برای مجروحان این حوادث سلامت کامل و برای بازماندگان شهدا شکیبایی آرزو کنم.



صلح خیر است و امیدواریم روزی تمام مردم افغانستان در سایه آن با هم مهر بورزند. مردم افغانستان بیش از هرچیزی به صلح، برادری و همدیگر پذیری نیازمند اند، در این ایام پر برکت از خداوند متعال استدعا می نمایم تا در دل های ما، عطوفت، بخشش و برادری را بیشتر کند تا مردم ما بتوانند در کنار سایر ملل جهان به آرامش و رفاه دست یابند. ما از بارگاه آن صمد یکتا استدعا می کنیم تا به یمن طاعات و عبادات خالصانه هموطنان عزیز ما، در روزهای دشوار در کنار هم باشیم و برای آینده پر سعادت کشور عزیز خویش سعی و تلاش ورزیم. برای همه هموطنانم ایام عید را سرشار از صلح، برکت و صمیمیت آرزو می کنم.

## د شاوخوا ۵۰ میلیونه جلده نویو کتابونو د چاپ پروژه به ډېر ژر پیل شي

پوهنې وزارت په پام کې لري، چې د راتلونکو دوو کلونو لپاره د افغان زده کوونکو د اړتیا وړ کتابونو د ۵۰ میلیونه جلدو یوه پروژه ډېر ژر



پیل کړي.

دپوهنې وزارت د نشراتو رئیس محمد کبیر حقمل، چې ددې پروژې مشري کوي وایي،پر دې کتابونو به شاوخوا ۳۱ میلیونه ډالر ولګېږي. دده په وینا د یادې پروژې لومړنی چارې بشپړې شوې او عملي چارو ته انتظار کوي.

دپوهنې وزارت د نشراتو رئیس زیاته کړه، ددې کتابونو د چاپ پیسې د امریکا د متحدو ایالتونو پراختیایي اداره یا یو اس اي آی ډي ورکوي. ښاغلي حقمل په وینا نومورې اداري د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د کتابونو د چاپ او وېش ټېر وهلی دی.

په ورته وخت کې نوموړی ددې پروژې په ژر تر ژره عملي کولو کې د مرسته کوونکي اداري جدیت هم یوه اړتیا بولي. ښاغلی حقمل زیاتوي، د کتابونو د چاپ د پیسو ژمنه تېر کاَل شوې وه، چې متاسفانه تر دې مهاله یې هم عملي جامه نه ده اغوستې. د نشراتو رئیس له دې امله، چې د وزارت لخوا ټولې مقدماتي چارې پایته رسېدلي او ډونر باید نور ددې پیسو د کارونې اجازه وکړي، هیله وښوده، چې پروژه به په راتلونکې لنډه موده کې پیل شي.

ښاغلی حقمل وایي، په نویو پروژو کې کورنیو چاپي کمپنیو ته مهمه برخه په پام کې نیول شوې او په دې اړه مجلسونه هم ورسره شوي دي.

## امتحان چهارنیم ماهه مناطق سر سیر کشور آغاز گردید

امتحانات چهارونیم ماهه عموم مکاتب تعلیمات عمومی، تعلیمات تخنیکی و مسلکی و مدارس دینی اعم از دولتی و خصوصی مناطق و ولایات سردسیر کشور به تاریخ ۱۵ سرطان سال روان خورشیدی آغاز و مطابق لایحه الی اخیر سرطان ادامه داشته که بعداز ختم امتحانات مدت ده یوم تعطیلات تا بستانی مکاتب قابل تطبیق می باشد.



همچنان بعداز ختم رخصتی دروس بدون تأخیر بتاریخ ۱۱ اسد دو باره آغاز گردیده و هم به ریاست عمومی نظارت تعلیمی هدایت داده می شود تا از جریان امتحانات در مرکز و ولایات نظارت دقیق نمایند.

## میدان وردګو کې د سواد زده کړې مرکزونو لپاره آزموینه واخیستل شوه

د وردګو ولایت د بهسودو، سیدآباد، او چک ولسوالیو لپاره د درې بابه سواد زده کړې مرکزونولپاره آزموینه واخیستل شوه.

دغه آزموینه چې په پام کې ده د هر مرکز لپاره به ۵۰ تنه ښوونکي د آزادې سیالۍ له لارې جذب شي د ۵۴ تنو ښځینه وو په ګډون ۳۲۳ تنو په کې برخه اخیستې وه نوموړي ښوونکي به د ۹ میاشتو لپاره په یادو ولسوالیو کې په دندو و ګمارل شي چې په ترڅ کې به یې ښوونکي په دې وتوانیږي تر څو هغه شمیر کسانو ته چې د لیک لوست له ستر او الهی نعمت څخه بې برخې پاتې شوي دي د لیک لوست زمینه برابره کړي.

## سنگ تهداب تعمیر لیسه تجربوی ولایت لوگر گذاشته شد

سنگ تهداب تعمیر لیسه تجربوی شهر پل علم ولایت لوگر توسط محترم محمد حلیم فدایی والی ولایت وانجینر محمد اکبر ستانکزی رییس معارف آن ولایت در حالیکه تعدادی از مسوولین ادارات دولتی، متنفذین قومی، استادان و شاگردان حضور داشتند گذاشته شد .

تعمیر متذکره بصورت پخته و اساسی به مصرف مجموعی بالاتر از ۱۰۱۴ میلیون افغانی در مدت ۶ ماه اعمار می گردد، که دارای ۸ صنف درسی،۲ اتاق کمپیوتر ،دیوار احاطه ، میز وچوکی برای شاگردان ، چاه آب اشاه میدنی با سایر ملحقات ضروری می باشد. قابل یاد آوری است که با اعمار تعمیر متذکره زمینه آموزش بهتر به شکل عملی ونظری برای شاگردان لیسه تجربوی مهیا خواهد گردید.

سرمقاله:

# ژوند د مور د مينې محصول دی

سلام پر مورا!

پر هغې پرښتې سلام چې ځای او مقام ته يې د نړۍ ټول نيکي غوښتونکي چې په هر رنګ او نژاد پورې اړه لري او د هر فکر او عقيدې څښتنان وي د تعظيم او تکريم سر ټيټ کړي او درناوی يې کوي.

سلام پر هغې مور سلام، چې د ماشومتوب، بې وزلي او بې چارګي، غم او کړاو په وخت کې د خپلو اولادونو په درد دردمنه شوه او د مينې، محبت، رښتينولی، سخاوت او وفا د غېږې په پرانيستلو د هغو لپاره د نجات فرښته وګرځېده.

مور د هغې پرښتې نوم دی، چې له خپلو اولادونو سره په بې شانه او پريمانه مينې، صفا او صميميت کې يې د کائيناتو ستر واکدار د خپلې پاچاهي او عظمت د ځرګندولو بېلګه انساني نړۍ ته وړاندې کړې د مور د بې سارې مينې له برکته په دې سترې نړۍ کې د ميليونونو ډوله حيواناتو او نباتاتو ژوند ژغورلی دی له شک پرته دا دنيا او دا نړۍ د مور د مينې محصول دی او که له اولاد سره د مور بې سارې مينې شتون نه درلودلای؛ نو نن به په دې نړۍ کې د ژوند په نوم څه نه و پاتې.

د اسلام په سپېڅلي دين کې د مورمقام او ځای تر هغه ډېر لوړ او اوچت دی، چې مونږ يې فکر کوو، الله[ج] په خپل ستر کلام قرآنکريم کې فرمايي،ژباړه: دمور او پلار په مخ کې د اُف قدرې هم مه وايه، او هغوی ته په تروه او بربښ ځواب مه ورکوه بلکې له هغوی سره په درناوي خبرې کوه.

(د بني اسرائيل سورة ۲۳ آيت)

مور او پلار د اولاد «اُف» کول نشي زغملای؛ نو ځکه الله (ج) فرمايي، چې تاسې د خپلو والدينو په مخکې د اُف قدرې هم څه مه وايي.

دغه راز زمونږ ګران پيغمبر نبي کريم[ص] فرمايي،ژباړه: جنت د مور تر قدمونو لاندې دی، د دې مبارک حديث څخه دا ځرګنديږي، چې د مور او پلار اطاعت په اولادونو فرض دی او چا چې د مور او پلار خبرو ته غوږ کېښود؛نو خامخا به يې د دنيا او اخرت ښېګڼې او برياليتوب په نصيب وي.

ګرانه زده کونکيه د هيواد ځلميه! د مور، پلار، استاد، مشر او سپين ږيري احترام او درناوی ډېر نېک عمل دی او چا چې ياده لاره خپله کړه نو د بريو په لور يې د ځان لپاره د رڼا لار پرانيستله نو راځئ چې د الله(ج) دحکم په پرځای کولو او د يادو پيغمبري اصولو په خپلولو سره د انسان او انسانيت لپاره يادې لاړښوونې ميراثي او تل پاتې کړو،ترڅو راتلونکي نسلونه هم زمونږ په پل، پل کېږدي او د مور، پلار، استاد او نورو مشرانو او کشرانو د احترام او درناوی په ځانګړې ډول د مور مقام او منزلت ته په احترام کولو سره د بشريت لپاره د ژوندانه د ډېرو ښو اصولو او بنسټونو د پرېښودلو نوښتګر او بنسټ ګر و اوسو د مور غېږ د انسان لومړۍ مدرسه ده، مور د انسان هغه لومړنۍ او يوازينۍ ښوونکې ده، چې روح، روان، احساسات، عواطف، علم، پوهه، دين، مذهب حتی د آواز تون او ژيست او په يوه کليمه کې د هغې شخصيت په انسان اغېزه لري او انسان هر څه چې دی د همدغې ښوونکي او مدرسې محصول او انګازه ګڼل کيږي، هر څومره چې مينډې د علم او پوهې په ګاڼه سمبالې وي يوې ښې راتلونکې او نيکمرغه ژوند ته دې رسېدلو لپاره په تمه کيدای شو.پورتنيو ټکو ته په کتو سره هيله ده، چې درانه استادان او ښوونکي د هيواد د اولادونو په ځانګړې توګه د نجونو سالمې ښوونې او روزنې ته پاملرنه وکړي او د يوې نېکمرغه ټولنې په جوړولو کې د يوې با تعليمه؛ با معرفته او با تهذيبه مور د ونډې په زياتولو سره غوره لاره خپله کړي.

د غبرګولي د مياشتې ۲۴نېټه د مور د نړيوالې ورځې سره برابره ده مونږ هم له همدې امله د مور مقام ته د دې خو کرښو په نذرانه کولو سره وغوښتل چې د خپلې ګرانې، درنې، خوږې او سپېڅلې مور چې هره لاړښوونه يې زمونږ لپاره د تيرې نقش دی درناوی وکړو

# د ښوونکي علمي او شخصيتي ځانګړتياوې د زده کړې او تدريس په بهير ژوره اغيزه لري

د ښوونيزو موخو د لاسته راوړلو او ريښتيانې لپاره بنسټيز عامل ښوونکی دی، ښوونکی کولای شي آن د تدريس د کتابونو ستونزې له منځه يوسي اود ښوونيزو امکاناتو او موادو نيمګړتياوې پوره کړي يا برعکس د تدريس غوره موقعيت او موضوع په خپلو کمزورو، غير علمي او مسلکي کړنو په يوغير فعال او مکدر چاپيريال بدل کړي. په تدريس کې يوازې د ښوونکي لياقت، پوهه او نړۍ ليد اغيزه نه لري بلکې د هغه ټول شخصيت په زده کړه کې د ښو شرايطو د را منځته کولو او په زده کوونکو کې د مثبت تغيير او بدلون عامل ګرځي، د ښوونکي نظريات، نړۍ ليد او هغه فلسفه چې وربانديې باور لري د هغه د کار په څرنګوالي کې ټاکوونکی رول لري او هغه له يو ګوښي حالت چې يوازې په تدريس کې مهارت دي وباسي او د يو داسې جامع او متفکر انسان په توګه يې ټولنې ته وړيژنې چې کولای شي انسانان وروزي او سمې لارې ته يې لارښوونه وکړي، د يو ښه ښوونکي د ټولو ځانګړتياوو پيرندل او موندل آسانه کار نه دي خو هغه څه چې د ټولو تر منځ ګډ او مشترک دي کولای شو هغه ته ګوته ونيسو. مونږ په دې ليکنه کې هڅه کړې چې يوازې د ښوونکي د شخصيتي ځانګړتياوو په باب د څو لنډو ټکو يادونه وکړو چې د درنو ښوونکو رفتار، کردار، نظريات، عقايد، احساسات، عواطف، او لارښوونې دهغه د ارزونې لپاره ډېر ښه معيار او مقياس ګڼل کيږي؛ نو له دې امله ښوونکي بايد په ټولګي کې لاندې ذکر شويو سپارښتنوته پاملرنه وکړي او د تدريس پرمهال دومره متعادل حرکتونه وکړي چې د زده کوونکو لپاره نمونه او الګو واوسي څو زده کوونکي خپلواک او وطنپال وروزي اوهغو ته ور زده کړي چې انسانيت او انساني کړنې د پلي کولو او ريښتيانې وړ دي او په خپله هم بايد د انسانيت او شرافت يوه ټوټه وي ښوونکي بايد د ښه نيت څښتن وي او تل د الهي او انساني موخو د پلي کولو په لور قدم واخلي او د ژوندانه په ټولو ډګرونوکې په خدای(ج) تکيه ولري له مادي دنيا اواستکبار سره تړاو ونه لري د مېړنتوب او مثبت غروز څښتن وي څو وکولايشي د پوهې او علم ساتونکي واوسي، د ښوونکي په عمل او خبروکې بايد تو پير نه وي او هغه عملونه چې په خپله تحريموي نبايد په هغه ککړ وي او يا کوم عمل چې خپله وربانديې اختته او روږدی وي په نورو لازمي او حتمي وګرځوي، ښوونکی نبايد ځانته داحق ورکړي چې خپل زده کوونکي په دې دليل چې يونسل له هغه څخه وروسته دنيا ته راغلي او يا له هغه څخه کشران دي خپلې ټولې خبرې په هغو ومني، ښوونکي بايد د تدريس په بهير کې خپلو ټولو زده کوونکو ته که هغه غبي دي که هوښيار، که هغه لويان دي او که کشران



پاملرنه وکړي؛ دهغوی ټول نظريات واوري نه دا چې د يو څو هوښيارو او تيزهوشه زده کوونکو سره اړيکې او علاقه وساتي او نوروته پاملرنه ونه کړي، که چيرې ښوونکي دخپلو ټولو زده کوونکو نظريات غوښتنې او پوښتنې په غور سره وا نه وري او دهغو خبروته غوږ ونه نيسي دصنف فضا مختله کيږي او د تدريس بهير له خنډونوسره مخ کيږي او په ښوونځي کې نظم له منځه ځي ښوونکي بايد له زده کوونکو سره په عدالت چلند وکړي او د هغو تر منځ توپير ونه کړي که زده کوونکي په دې پوه شي چې ښوونکی د زده کوونکو تر منځ توپير او تبعيض کوي نو هيڅکله به په هغه باور ونکړي ځکه چې د ښوونکي ټول رفتار او کردار د زده کوونکو له خوا ارزول کيږي او له هغه سره سم ځان عياروي.

ښوونکي بايد وخت ته زيات ارزښت ورکړي او وخت پيژندونکي واوسي او له زده کوونکو څخه مخکې ټولګي ته حاضر شي څو وکولای شي د زده کوونکو لپاره د نظم او دسپلين نمونه او بيلګه واوسي.

ښوونکی بايد په خپل مضمون او هغې موضوع چې وربانديې خبرې کوي بشپړه واکمني ولري او وکولای شي چې په ډېرو ساده الفاظو او مثالونو زده کوونکو سره د يو ښوونيزې اړيکې په ټينګولو سره مطالب او مسايل د زده کوونکو ذهن ته ورددنه او وليږدوي که چيرې ښوونکی په خپل مضمون حاکم ونه اوسي په ښوونځي او خپلو زده کوونکو کې د ښه نوم او نشان څښتن نشي کيدلای؛ د ښوونکي ظاهري بڼه او خبرې کول د غږ (تون) او لباس هغه عوامل دي چې دهغه به تدريس اغيزه کوي هغه ښوونکي چې له خيرن او نا مرتب لباس او نا موزونه قيافې سره ټولګي ته راځي د زده کوونکو پاملرنه ځانته نشي را اړولی او دخبرو او درس اغيزه يې ډېره کمزورې او له شکه ډکه وي، ښوونکی بايد ساده او پاک لباس اغوستل دود کړي څو ټول زده کوونکي که په شتمنو کورنيو پورې اړه لري او که په بې وزله کورنيو پورې وکولای شي دځان لپاره هغه برابر کړای شي او د کورنيو اقتصاد د قيمتي لباسونو په اخستلو کمزوری نکړي او ښوونځی د زده کوونکو تر منځ دلباس نندارتون ونه ګرځوي.

ښوونکي بايد تل په مينه ناکه او له صميميته ډکه لهجه خبرې وکړي اود لکچر په وخت کې دتکيه کلام څخه ځان وژغوري، په ټيټ آواز خبرې وکړي او دغږ تون يې موزون او څپه يې خوږه وي څو وکولای شي د خپلو زده کوونکو په زړونو، روح او روان په خپله پوهنيز، علمي او لوړ فرهنګ اغيزه وشيندي او په خپلو زده کوونکو کې د مثبت بدلون او تغيير عامل وګرځي، داسې عامل چې زده کوونکي يې په راتلونکې کې د خپلې ټولنې دخدمت جوګه شي او سترې هيوادنی ملي او بين المللي دندې او مسوولیتونه پرمخ بوځي او د يو ملي او بين المللي شخصيت په توګه نړۍ نړيوالو او د ځمکې کرې ته ګټور ثابت شي او دخپل ښوونکي، ښوونيزې اداري کورنيو او مشرانو لپاره د وياړ او افتخار سبب وګرځي

## موري

گلزاده

موري هغه اختر غواړم
چې يوډله ماشومان وي
داختر په خوشحالو کې
په خندا خندا روان وي
کور په کور کلي کلي
ګرد چاپيره ګاونډيان وي
موري هغه اختر غواړم
چې ناري د بنجاره وي
رنګينه بنګړي په لاس کې
شنه خالونه را سره وي
غميداره مې غاړکی وي
په همزولو کې ښکاره وي
موري هغه اختر غواړم
پايزيبونه مې په پښو وي
دواړه لاس مې په نکريزو
زر زرينې مې جامې وي
په ټولي کې د همزولو
مرمرينې مې څپلی وي
موري هغه اخترغواړم
چې له هر رنګه ميوې وي
ډول ډول مغزکان وي
هم خوږې خوږې کلچې وي
زموږ په کورکې هم سترخوان وي
د خوږو جوړې خوانچې وي
موري هغه اخترغواړم
ديګې بانډې وي ديکدان وي
نه پور وي نه د سوال وي
ډوډۍ ډيره پرستر خوان وي
يوه حجره وي د خوارانو
په خندا سر ماشومان وي
موري هغه اختر غواړم
د بډا د کور اختروي
زما مور نه وي سوالګره
پلارزما هم بختوروي
نه په کلي کې خواري وي
نه د کلي ملك مړوي
موري هغه اختر غواړم
چې غني زما بابا واى
هر يو چا به نارولی
که زه لور د عبدالله واى
هم به ښکلې شهزادګۍ واى
هم تر هر چا به بالا واى
موري هغه اخترغواړم
چې خوشحاله خوشحالي وي
نس مې موړ او تن مې پټ وي
له همزولو سره سيالي وي
نه به ته په ژړا سر واى
ګلزاده مور به رازي واى

## د مور مقام

سمندر وايي :مور هغه هستي ده، چې د اولاد په سلګونو زره رازونه په سينه کي پټ ساتي.
وريځو وويل :مورهغه هينداره ده چې هر رنګ پکي له ورايه ښکاري.
غرونو وويل :د مور درناوئ زما له څوکو څخه هم ډېرلوړدئ.
باران وويل :مور يوه داسي هستي ده، چې تل يې د ميني وړانګي پر اولاد خپرې وي.
زمانې وويل :د مور مينه زما له ځغل څخه هم تېزه ده.
شاعر وايي :مور يوه داسي هستي ده، چې د اوربدونکي سينې ته کښته کيږي.
ليکوال وايي :مور هغه هستي ده، چې د ستايني لپاره يې په نړۍ کي الفاظ نه موندل کيږي.
دعا وايي :مور هغه شخصيت دئ ، چې د اولاد د خوښۍ لپاره هر وخت ماغواړي.
جنت وايي :مور هغه هستي ده، چې زه يې هم تر قدمونو لاندي يم.
لمر وايي :مور يوه داسي هستي ده، چې له هرډول ګرمۍ او يخنۍ څخه اولاد ساتي.
ځمکه وايي :زما قيمت خو به څوک پوره کړي، خو د مور قيمت هيڅوک نه شي پوره کولاى.
هوا وايي :په ماکې نرمي او تازګي د مور څرګندونه ده.
رڼا وايي :مور د رڼا او ښودني ځلۍ دئ.
زه وايم :ما ته د مور او ګل ترمنځ توپير نه ترسترګو کيږي.

راليږونکی: عبدالنجيب

## راز موفقیت از نظر بزرگان جهان

- از دست دادن امیدی پوچ و محال، خود موفقیت و پیشرفتی بزرگ است.
- به گمان من انسان برای موفقیت در زندگانی باید بتواند در چهار زمینه استاد شود: مناسبات، تدارکات، نگرش و رهبری.
- میزان بزرگی و موفقیت هر فرد بستگی به این دارد که تا چه حد می تواند همه نیروهای خود را در یک کانال بریزد.
- موفقیت کلید شادی نیست، شادی کلید موفقیت است؛ اگر آنچه انجام می دهی دوست بداری، موفق خواهی بود.
- راه موفقیت، همیشه در حال ساخت است؛ موفقیت پیش رفتن است، نه به نقطه پایان رسیدن.
- موفقیت بر روی ستون های شکست شکل می گیرد
- شکست بیش از موفقیت آموزنده است؛ کسی که هیچ گاه اشتباه نمی کند، هرگز به جایی نمی رسد.
- شکست یک عامل نیروبخش است، نه یک بازدارنده؛ هر شکست بذری از موفقیت در دل دارد.
- هرکس خواهان موفقیت است باید یاد بگیرد که ناکامی جزء حتمی فرایند پیشرفت است.
- من معتقدم موفقیت زمانی به دست می آید که یک قدم به پیش برویم؛ یعنی ضمن استقبال از ناملایمات و سختی ها شکست را بخشی از زندگانی خود بدانیم.
- علت موفقیت آدم های موفق این است که خرد خود را در کوره های ناکامی پیدا کرده اند. خرد حاصل از کامیابی بسیار اندک است.
- رمز موفقیت، پاه بندی به هدف در زندگی است

ارسالی آصفی

## ای فرشته امید!

م
پادر! رایحه دل انگیز وجودت، مرا تا عمق حیات به سرزمین نور، به وادی سحر، به دیار شکفتن و بلوغ، و به دیار حضور و سرور هیش می برد. با نگاهی به چهره زیبایت، منزلْ منزلِ عمرم را که به خاطر می آورم، تو را می بینم که کردارت همه مزین به مضامین رستی بخش است.ای فرشته امید و آرزو! درامتداد نگاه پر فروغت، عطوفت و مهربانی معنا می شود که در حقیقت از مهربانی خدا هگ و بو گرفته است.مادرا! خاطره های لطیف دستانت، یادگار همیشه جاری در احساس من است و نقش تو در قالب خاطره ام، میشه جاودان خواهد بود. مادر، ای عصاره فداکاری ها و ای اسطوره عشق! تمام گل های سپید باغستان را به پایت می ریزم.

ارسالی: عابده عابدی

گل آغا احمدي وردگ

## محمد سالم مسعودي د پوهنې دېرشم وزير

ښاغلی محمد سالم مسعودي د ۱۳۶۷ څخه تر ۱۳۶۸ هجري لمريز کال پورې د افغانستان د پوهنې د وزير په توګه دنده اجرا کړې ده. نوموړی چې په ۱۳۰۶ هجري لمريز کال د لغمان په ولايت کې نړۍ ته سترګې پرانيستې وې، د ۱۳۸۸ هجري لمريز کال د چنګاښ د مياشتې په ۱۷ مه نېټه د ۸۲ کلونو په عمر وفات او په لغمان ولايت کې خاورو ته سپارل شوی دی. بايد وويل شي چې ښاغلی مسعودي د معاصر افغانستان د ساينسي علومو او فنونو په ډګر کې پېژندل شوې څېره وه او د پوهنې د وزارت په مقام سربېره يې د کابل د والي، د کورنيو چارو د وزارت د مرستيال او په بلغاريا او فرانسه کې د افغان سفير په توګه خپل هېواد او خلکو ته ۴۵ کاله خدمت کړی چې د هېواد په تاريخ کې يو روڼ فصل ګڼل کيږي. د نوموړي د ژوند وروستي کلونه په اتريش کې تېر شول خو جنازه يې هېواد ته انتقال او په خپله پلرنۍ هديره کې خاورو ته و سپارل شوه.



ښاغلي دوکتور محمد سالم مسعودي لومړنۍ زده کړې له ۱۳۱۵ څخه تر ۱۳۲۰ کال په لغمان ولايت کې سر ته و رسولې او په ۱۳۲۶ کال کې د کابل له دارالمعلمين څخه فارغ شو. نوموړي له ۱۳۲۷ څخه تر ۱۳۳۰ کال پورې د کابل پوهنتون د ساينس په پوهنځي کې لوړ تحصيلات تر سره کړل او د لېسانس د سند په لاسته راوړلو بريالی شو. نوموړي په ۱۳۳۹ او ۱۳۴۰ کلونو کې د امريکا د متحده ايالاتو د کولمبيا په پوهنتون کې لوړې او مسلکي زده کړې تر سره کړې. ښاغلی مسعودي په ۱۳۴۱ کال د پروان ولايت په نعمان بن ثابت لېسه کې د ښوونکي په توګه دنده پيل کړه چې په ۱۳۴۲ کال د همدې لېسې مرستيال مدير او په ۱۳۴۳ کال کې د همدې لېسې مدير شو. نوموړی په ۱۳۴۴ کال د بلخ ولايت د باختر د عالي لېسې د مدير په توګه و ټاکل شو او تر ۲ کلونو پورې يې دغه دنده مخته يوړه.

Weekly Marif Newspaper

Established 2002, Issue No 214, Month June - July

Ministry of Education Cultural and Social Issue

## د قرانکریم ستوري سیالۍ لومړۍ، دویم او دریم مقام ګټونکي اعلان شول

د هېواد د نجونو او هلکانو ښوونځیو ترمنځ د قرانکریم ستوري سیالۍ، چې د روژې مبارکې میاشتې په مناسبت



جوړې شوې وې پای ته ورسېدې. دغه سیالۍ د هېواد د ټولو ښوونځیو د ۲۴ زره زده کوونکو ترمنځ د نجونو او هلکانو په جلا ګروپونو کې پر لاره اچول شوې وې، چې په درېو پړاونو کې له هرې ډلې درې تنه غوره او ګټونکي اعلان شول.

په دې اړه جوړه شوې غونډه کې د پوهنې وزیر ښاغلي ډاکټر اسدالله حنیف بلخي، د اسلامي زده کړو مرستیال ښاغلي ډاکټر محمد شفیق صمیم، د ښوونکو د روزنې او ښوونیز نصاب مرستیال ښاغلي اسدالله محقق جهاني، دیني عالمانو او یو شمېر نورو چارواکو برخه لرله. د پوهنې ښاغلي وزیر چې د حسن قرائت سیالیو وروستی پړاو یې له نږدې کتو د یادو سیالیو له جوړېدو یې خوښي وښوده او له ټولو زده کوونکو یې وغوښتل، چې د اسلام د سپېڅلي دین د ارشاداتو په رڼا کې د یوه ریښتیني او خدمتګار انسان په توګه خپل هیواد او خلکو ته د خدمت جوګه شي.

ددغو سیالیو په وروستي پړاو کې د هلکانو له ګروپ څخه د غلام صدیق محبي لیسې زده کوونکی سید نصیر احمد د سید عبدالباقي زوی لومړی مقام، د شمس المشایخ د لیسې زده کوونکی نورالحق د عبدالحق زوی دویم مقام او د احمد شاه مسعود د لیسې زده کوونکی علي یاسر د حسیب الله زوی دریم مقام تر لاسه کړ.

د نجونو له ګروپ څخه بیا د عبدالحي الهي لیسې زده کوونکې مرحبا د عبدالعلي لور لومړی مقام، د ملکه ثریا لیسې زده کوونکې حسنا د خواجه عبدالرازق لور دویم مقام او د الفتح لیسې زده کوونکې شکریې د خیر الله لور د دریم مقام ګټونکې وپېژندل شول.

د یادولو وړ ده، چې دغه زده کوونکي د هېواد د ټولو ښوونځیو د ۲۴ زره زده کوونکو له منځه د یوه هیئت لخوا چې له جیدو دیني عالمانو او د قرانکریم له حافظانو څخه تشکیل شوی و، په درېو پړاونو کې وټاکل شول.

د غونډې په پای کې د یادو سیالیو ګټونکو ته جایزې او ستاینلیکونه هم ووېشل شول.

## امتحان رقابتی برای استخدام معلمان سواد آموزی اخذگردید

امتحان رقابتی صدتن از واجدین شرایط غرض استخدام به حیث معلمان سوادآموزی در تالار کنفرانسهای ریاست معارف ولایت بادغیس اخذ گردید.

محترم عبدالقیوم ساجد سر پرست ریاست معارف ولایت بادغیس حین بازدید از جریان امتحان ، هدایت دادند تا در استخدام معلمان سواد آموزی با درنظر داشت شایسته سالاری و درجه تحصیل به متقاضیان اولولیت بدهند.گفتنی است که : از جمله ۱۰۰ تن یادشده ۵۰ تن آن ها با



اخذ نمره بالاتر انتخاب گردیده که از سوی دفتر یونسکو برای سال جاری غرض تدریس سواد آموزان در پنجاه باب کورس در مرکز قلعه نو به معاش ماهانه ۵۰ دالرامریکایی استخدام می شوند.

## کمیته های شاروالی نمونه یی در پنج مکتب شهر پلخمری ایجاد شد

ایجاد کمیته های شاروالی نمونه در پنج مکتب شهر پلخمری به همکاری ریاست معارف و شهر داری پلخمری ایجاد گردید.

ابتدا شهردار پلخمری ضمن قدر دانی از اهل معارف بخاطرهمکاری نزدیک با این اداره خاطر نشان ساخت .

به اساس یک پرتوکول که میان وزارت معارف و شهر داری صورت گرفته در پنج مکتب پلخمری که شامل لیسه حوا، لیسه نمبر دو لیسه معدن لیسه خاتم الانبیا و مکتب حضرت زید میشود شاروالی های کوچک را ایجاد نمودیم .

اقای صفر ضمن بیان اینکه هر کمیته شامل چهارتن که به صورت انتخابی از میان شاگردان مکاتب انتخاب گردیده در راس ان مدیر مکتب و یک تن ازاموزگاران قرار دارد ایجاد این کمیته ها غرض نهادینه شدن فرهنگ شهر نشینی و چگونگی اموزش مدیریت و مسولیت پزیری برای شاگردان بوده در نظر داریم که این برنامه را در سطح ولایت گسترش دهیم .

در ادامه ریس معارف ضمن قدر دانی از شهرداری پلخمری در امر ایجاد کمیته های شاروالی مکاتب در مورد فرهنگ شهر نشینی به تفصیل صحبت نمودند: سپس وسایل و ابزار کار که شامل بیل کراچی زباله دانی جاروب و غیره می باشد در اختیار مکاتب قرار داده شده.

## د سواد زده کړو ولایتي مسوولینو ۸ ورځنۍ ورکشاپ پیل شو

د هېواد د ۱۹ ولایتونو د مرکز او ولسوالیو د سواد زده کړو مسوولینو اته ورځنۍ ورکشاپ د پوهنې وزارت د سواد زده کړو د مرستیال ډاکټر سردار محمد رحیمي، د یونسکو موسسې او سواد زده کړو معینیت د مسوولینو او یو شمېر نورو چارواکو په ګډون پرانېستل شو.

په دغه ورکشاپ کې د یادو ولایتونو ۲۰۰ د سواد زده کړو آمرین او مدیران ګډون لري، چې په کلیو او بانډو کې د سواد زده کړو پروګرامونو په عملي



کېدو او په دې برخه کې شته ستونزو او ننګونو ته د حل لارو چارو د لټولو او ټول هېواد کې د بې سوادۍ پر بشپړې له منځه وړلو باندې بحث او خبرې اترې کیږي.

د پوهنې وزارت د سواد زده کړو مرستیال ډاکټر سردار محمد رحیمي د ورکشاپ ګډونوالو ته ښه راغلاست وواېه او د سواد زده کړو په برخه کې یې د نړیوالې ټولنې په ځانګړې ډول د یونسکو موسسې له مرستو او همکاریو ځانګړې مننه وکړه، زیاته یې کړه، د بې سوادۍ له منځه وړل د حکومت یو له لویو ملي پروګرامونو څخه دي، چې پوهنې وزارت په دې برخه کې د نړیوالو همکارانو په مرسته هڅه کوي ټولو هغو کسانو ته چې د بېلابېلو لاملونو له امله له زده کړو لرې پاتې شوي، د سواد زده کړو اسانتیاوې برابرې کړي.په دغه ورکشاپ کې دغه راز د سواد زده کړو په برخه کې تازه تالیف شوي کتابونه(قرانکریم، ریاضي او د دواړو ملي ژبو پښتو او دري) هم معرفي شول. دغه درسي کتابونه تر راتلونکو ۱۵ ورځو د سواد زده کړو ټولو بنسټونو ته وېشل کیږي او په ټول هېواد کې به پر سواد زده کوونکو ووېشل شي.

## پیام تسلیت

سوگمندانه اطلاع یافتیم که محترم استاد نقیب الله صدیقی یکتن از سابقه دار ترین استاد لیسه قرغه یی ولایت لغمان به عمر ۶۶ سالگی از سوی




دزدان در منزل شان بی رحمانه و ظالمانه به شهادت رسید .

انا لله و انا الیه راجعون

محترم استاد نقیب الله صدیقی فرزند مرحوم وکیل صاحب پاینده محمد صدیقی مسکونه قریه چهارباغ ولسوالی قرغه یی ولایت لغمان بود موصوف مدت چند سال عمر پر بارش را بحیث استاد فزیک در لیسه قرغه یی و مدتی را هم بحیث مدیر اجرائیه ریاست معارف ولایت لغمان صادقانه و دلسوزانه سپری نموده است، و در خدمت اولاد وطن قرار داشت.

رهبری وزارت معارف افغانستان در حالی که فقدان شهید استاد نقیب الله صدیقی را یک ضایعه علمی می داند به خانواده محترم شان ابراز تسلیت نموده و به استاد شهید از بارگاه رب العزت بهشت برین استدعا می نماید.

رهبری وزارت معارف از نیروهای امنیتی می خواهد تا عاملان شهادت استاد را هر چه زودتر به پنجه قانون سپرده و از ملت نجیب افغانستان، علمای کرام و شخصیت های با رسوخ نیز می خواهند تا در حفظ جان و مال اهل معارف از هیچ گونه تلاش دریغ نه ورزند.

مسوول مدیر: محمد نسیم "عیاذ"

کتنپلاوي: محمد کبیر حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان
عبدالصبور غفراني - سرمؤلف مرستیال عنایت الله عادل - محمد اکرم وفادار

خبریالان: - محمد اشرف رسولي - غلام سخي محمدي

کمپوز و ډیزاین: بریالی رحمانزی

شمیر: ۵۰۰۰

دیجیتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)

ایمیل: marif.newspaper.moe@gmail.com

پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت